# رنګ په رنګ سوالونه

م-ر شفق

نن پرون د پاکستان بې نومه صوبه کښې د عوامي نېشنل پارټۍ او پاکستان پيپلز پارټۍ شريک حکومت دے. بخښنه غواړم صوبې ته بې نومه ځکه وايم چې صوبه سرحد نوم نۀ دے او د پښتو ادبياتو کښې د اخون درويزه نه راواخله تر دې دمه د پښتنو سيمې ته پښتونخوا ليکلې او وئيلې شي. خو نن پرون دا ځنې ځنې پښتو ويونکي ټُوک ډوډۍ پورې اريان دي او د ګرانۍ د لاسه پرېشان دي نو د سپړې دپاره ټول کند سوځولو ته تيار شوي دي او دا هم وائي چې مونږ په پښتونخوا څۀ کوو د پښتونخوا څخه څۀ جوړيږي؟ يو ځل د خان عبدالولي خان نه هم چا پوښتنه کړې وه چې تا د پېښور وکيلانو ته خپله وېنا کښې ګرده نړۍ کښې د نېشنلزم او بيا په دغه اساس د جرمنيانو يو کېدلو او شوروي اتحاد ټوټې کېدلو تفصيل خو بيان کړو ولې د پښتونستان په حقله مو هيڅ ونۀ وئيل نو هغۀ وخندل وئيل ئې بچې دا به پښتانۀ په خپله جوړوي. مطلب دا چې عوامي نېشنل پارټي کۀ د پښتونخوا يا د پښتنو د حقونو غوښتنه کوي او په حقه ئې کوي نو تر څو چې دغه غوښتنه ټول پښتانۀ ويونکي په ګډه ونۀ کړي نو اې اين پي په دې کښې کاميابي نۀ شي موندلې. کوم

سياسي ګوندونه چې په دې سيمه سياست کوي او د پښتنو په ووټ د اقتدار کرسۍ ته ځان رسوي د هغو ټولو دا فرض دي چې د پښتون قام د پېژندګلو، تشخص او د دوي نوم ناموس په حکومت ومني کۀ داسې نۀ کوي نو په ښکاره باره به د پښتون اولس بې احترامي او سپکاوے کوي او کۀ د پښتون اولس ځنې ګوندونه د خپلې بې نومه صوبې په نوم بدلولو خفه وي او لکه د کرنل شېر خان کلي د زيات شمېر خلقو په سړک او پياز ګوزاره نۀ شي کولې او خپلې شونډې اورومرو د ترکۍ په شوروا تر ساتل غواړي نو خپله ئې خوښه. اشنا له پند ورکړه کۀ پند نۀ اخلي نو غټ د شګو پنډ ورکړه چې په خوند ئې پوه شي.



خبره مې صوبه کښې د شریک حکومت نه شروع کړې وه. اې این پي او پي پي دواړه عوامي جمهوري ګوندونه دي او د خپلو عوامو د ترقۍ او ښېرازۍ ارماني دي. د خلقو د خدمت کولو دعوېدار دي. د پي پي پي غوړه په دې هم سوره ده چې په مرکز کښې واکمنه ده، په سندهـ کښې هم د پیپلز پارټۍ واکداري ده. پنجاب خو زمونږ مشر ورور دے او مشر ورور د پلار درجه لري. خو چې دغه صوبه کښې د اوړو بوجۍ په درې سوه روپۍ خرڅېږي او زمونږ صوبه کښې ئې نرخ د خبرونو مطابق نهۀ نیم سوه روپو ته ورسي نو احتجاج به کوو چې دا ولې؟ هرکله چې زمونږ صوبه کښې د اې این پي او پي پي پي شریک حکومت دے نو دواړه



د خلقو د ستونزو هوارولو او خلقو ته د ارام او راحت ورکولو یو شان ذمه وار دي. کۀ هر څو اختیارات مرکز سره دي او سرحد، بلوچستان خوارې صوبې لا هغسې بې اختیاره دي نو حاکم ګوند له پکار دي چې خپل ملګري ګوند سره پټ په پټه هم تربګني ونۀ کړي او ښۀ په راستۍ ورسره څنګ په څنګ د خلقو خدمت ته ملا وتړي خو بې نومه صوبه کښې قصه څۀ بل شان ده. دلته چې بدامني او تباهي خوره ده دا د چا د لاسه ده؟ ګراني او بې روزګاري ولې ده؟ د امن و امان په حالت کښې ښۀ والے ولې نۀ راځي؟ په دې راز کۀ عام وګړے نۀ پوهېږي نو د نامې جامې لارښودان پرې اورمرو پوهېږي او الله مۀ کړه کۀ نۀ پوهېږي نو د دې حقیقت څخه سترګې نۀ شي پټولې چې د دې هر څۀ اخلاقي ذمه واري په حاکمو ګوندونو پرېوځي. بې نومه صوبه کښې اې این پي او پي پي پي دواړه یو شان ذمه وار دي. ولې ډېره عجیبه او د حېرانۍ خبره ده چې ډز د اې این پي په شمله کېږي او د پي پي پي ملګري وزیران ښۀ په ارام په چوکو ناست دي د برېتو لاندې مُسېږي او تماشه کوي. شاید په دې څۀ کښې دي چې ورځ دوه کښې به دا ټول زما شي. حالانکې اوس هم د خزانې کُنجي ئې پي پي پي سره ده او په مرکز ټول په ټوله حق هم د پي پي پي دے.

زۀ په دېوالونو یا رکشو د لیکلو نعرو خبره نۀ کوم. چرته ډېر پخوا مې د رشید احمد صدیقي په ((ګنج هائے ګرانمایه)) کښې د مولانا سلېمان اشرف په حواله لوستي وو چې دۀ به اخبارونو کښې عموماً اشتهارونه لوستل. وئیل به ئې د دې نه د قام د رجحاناتو پته لګي. زما په خیال هر دور او هره ټولنه کښې د انسانانو دوه ټپې وي. یوه ټپه هغه ده چې الف ته لګړ او جیم ته جکړ وائي. چې خبرې کوي نو بدې ردې وائي، کنځلې کوي، سپکه سپوره وېنا کوي، ټوقې مسخرې او پچموزې د دوي وظیفه وي او چې په خپل عزت ئې کار نۀ وي نو د بل چا به څۀ خیال وساتي او دا ټپه په دې هم نۀ پوهېږي چې څوک بل بې عزته کوي هغه پخپله هم بې عزته شي.

دوهمه تپه د انسانانو هغه ده چې په خپل عقل فکر او دلیل خبره کوي. داسې بنده کۀ اعتراض او تنقید کوي او رائې خیال یا د حکومت د پالیسۍ سره د اختلاف څرګندونه هم کوي نو هغه ښه نتیجه راوړلې شي. زۀ دلته صرف یوې مسئلې ته ګوته نیسم.

په ولي باغ کښې ځان مرګي چاؤدنه وشوه. دا د اې این پي په سرمشر اسفندیار ولي خان قاتلانه حمله وه یا ورته د مرګ درکه ورکړې شوه. قاتلانه حمله چا وکړه؟ یا دا درکه څوک ورکوي؟ والله کۀ د دې څوک پوښتنه هم کولې شي. مونږ خو بس دا ولیدل چې د سترګو په رپ کښې بې ګناه بې خطا یو شمېر خلق شهیدان او ژوبل شو. یارزمین په خپل اسفندیار ولي خان ننګ وکړو او په خپله کم نصیبه خاوره ئې سر ورکړو او زما زړۀ په دې ولړزېدۀ چې دې دردناکه پېښه کښې د پښتو ننګیالے شاعر او لیکونکے فضل غني غني هم شهید شوے دے. ما د دۀ ورارۀ ازاد اشنغري سره غمرازي نۀ ده کړې ځکه چې دا غم یواځې د هغۀ نۀ دے. دا خو د پښتو شعر و ادب د دنیا غم دے له دې کبله زۀ هم دا حق لرم چې غمرازي دې ما سره وشي. دا خو د ټولو شریک غم او ماتم دے. دا دردناکه پېښه د خان عبدالولي خان او د پښتنو د عظیم محسن باچا خان په حجره کښې شوې ده چا چې ټول عمر د امن، عدم تشدد او د پښتون قام د ازادۍ، خپلواکۍ او جمهوري حقونو د پاره خپلې ځوانۍ او خپلې خانۍ خاورې ایرې کړې دي. ځان مرګي برید کونکي د اسفندیار ولي خان د وژلو هڅه خو کولے شي ولې دغه فکر، دغه نظریه او دغه عقیده هیڅ کله هم نۀ شي وژلې کومه چې باچا خان خپل قام له ورکړې ده.

عدم تشدد مینې او محبت ته وائي، د باچا خان دا فلسفه د الله پاک او د هغۀ د پاک رسول صلي الله علیه وسلم ښودلې لار ده. باچا خان څۀ پېغمبر نۀ وۀ خو هغۀ د الله د مخلوق د خدمت کولو د پاره د پېغمبرانو لار نیولې وه. هغۀ به وئیل زۀ سیاستدان نه خدائي خدمتګار یم. الله پاک ته د خدمت ضرورت نشته د هغۀ د مخلوق خدمت کول د الله پاک منشا ده. د یو داسې عظیم انسان په کور د



ځان مرګي برید سازش زمونږ د ژوند یوه بدبخته او دردناکه پېښه وه. پښتون وګړي له پکار دي چې په دې غور وکړي ځکه چې دا خو نېغ په نېغه د پښتون قام د نُوغي ویستلو د سلسلې مهمه کړۍ ده. یارانو چې ولیدل د اسفندیار ولي خان د وژلو سازش ناکامه شو نو اوس ئې د پېغورونو په چړو وژني. زۀ د هغو ورځپاڼو یا مدیرانو صحافیانو خبره نۀ کوم چې د عوامي نېشنل پارټۍ په مشرانو د طنز غشي ورول ثواب او د خپل ژوند وظیفه ګڼي. کۀ داسې نۀ کوي نو اخر خوري به څۀ او د خپل مالک نه به

شاباشے به څۀ اخلي؟ زۀ دلته د خپلو مينه والو خبره کوم. د سليم صافي نه واخلې تر احتشام طورو پورې ټول دغه وائي چې اسفنديار ولي خان به په جنازو لاس نيوو کښې شامل شوے وې، د ژوبل شوو تپوس پوښتنه به ئې کړې وې نو بيا به اسلام اباد ته تللو. دې خبرې سره زۀ سل په سله ملګرے يم خو بيا هم سوال پسې سوال راپورته کېږي اخر دا اسفنديار ولي خان چې د باچا خان او ولي خان وارث دے، د ملي عوامي ګوند سرمشر دے او يو ساهو پښتون هم دے اخر دومره بې حسه شو چې زما او ستا او د بل په ذهن کښې يوه خبره راځي نو دغه خبره يا احساس اسفنديار ولي خان ته ولې نۀ ودرېږي؟ زۀ ئې سر نۀ وينځم سپيناوے به ئې ميا افتخار حسين او د سردار حسين بابک غوندې فصيح اللسان وزيران وکړے شي.

بل سوال دا دے چې اې دا اسلام اباد کښې د امن قلا وه چې د اسفنديار ولي خان سر ته پکښې خبر شو. دغلته خو آصف زرداري او وزير اعظم



يوسف رضا ګيلاني په خپله هم ځان محفوظ نۀ ګڼي

او بيا د ميريټ هوټل د چاودنې نه پس هم کۀ څوک دا وائي چې اسلام اباد محفوظ دے نو هغه به خوش فهمه وي. بل کۀ تاسو ته ياد وي نو په جرنېل مشرف په اسلام اباد کښې يوه حمله شوې وه. د هغې حملې نه پس هغۀ د اسلام اباد نه پنډۍ ته کډه يوړه، هغه جرنېل هم وۀ او د پاکستان صدر هم. هغۀ ته د هر چا نه زياته سيکيورټي حاصله وه بيا هم هغۀ اسلام اباد پرېښے وۀ. خو هيچا هم د هغۀ دغه اقدام بُزدلي نۀ ګڼله، هيچا ورته بد نۀ وو وئيلي. قاضي حسين احمد په نوښار کښې يوه جلسه کړې وه چې په کښې بم چاؤدنه شوې وه. د هغې نه پس لا تر اوسه په پښتونخوا کښې هغۀ بله جلسه نۀ ده کړې. دغسې مولانا فضل الرحمان هم د جلسې کولو نه تر اوسه ډډه کوي خو د هغوي دا اقدام څوک نۀ محسوس کوي.

د اسفنديار خان اسلام آباد ته تګ بل چا نه صرف زمونږ خپلو پښتنو ډېر بد ګڼلے دے. حالانکې هغۀ ته د صدر او وزير اعظم له اړخه وينا شوې وه او ورپسې ئې هيلي کاپټر رالېږلے وۀ. د پارټۍ نورو مشرانو هم غوښتل چې هغه اسلام اباد ته لاړ شي. د دوي د پېغورونو نه خو داسې ښکاري لکه چې څوک به خپل حفاظت هم نۀ کوي. په ولي باغ کښې د دغې چاؤدنې نه پس بې شمېره پښتانۀ ولي باغ ته رارسېدلي وو کۀ چرې اسفنديار خان پاتې شوے وې نو په دغه لويه ګڼه ګوڼه کښې د بلې بم چاؤدنې نۀ کېدو څۀ ضمانت وۀ؟ يا په جنازه کښې د خودکُش چاودنې نۀ کېدو ګارنټي چا ورکولې شوه؟

بـل د سیاسـي مشـر خپـل یـو حېثیـت او اهمیـت وي او د دغـې اهمیـت پـېش نظـر د پـارټۍ مشرانو دا فېصله کړې وه. پاتې شوه د شهیدانو په جنـازو کښـې شـرکت او د ژوبلـو تپـوس پوښـتنه نـو هغه د پارټۍ خلقو کړې ده. د یو مشر دپاره دا خبره ناممکنه هم ده چې هغه دې د هر چا غـم ښادۍ له په هر قسمه حالاتو کښې ځان ورسوي. ډېرو سیاسي مشرانو دا ځل اختر هم په خپل کلي کور کښـې نۀ دے کړے خو په هغوي هیچا الزام نۀ دے لګولے. دلته ماته د خوشحال بابا یو شعر ډېر رایادېږي چې:

په بل توره ټوپک هیڅ ویشتلے نۀ یم
کۀ ویشتلے یم خو بیا په خپل ټوپک یم

دا یـو سـوال هم د پـام لرنې جوګه دے چې هر کله صدر صاحب او وزیر اعظم صاحب ولي باغ ته سمدستي چورلکه (هیلي کاپټر) رالېږلو او په دې کښې ئې د ملي عـوامي ګوند مشر اسفندیار ولي خان او د هغۀ د کور ماشومان اسلام اباد ته غوښتل نو دا نور خلق ئې چاته پرېښودل؟ د ټول ملک دغو دواړو واکمنو ته پکار وو چې په دغه چورلکه کښې پخپلـه ولـي بـاغ تـه راغلـي وې او نـۀ یـواځې خپـل ملګـري اسـفندیار ولـي خـان بلکـې د ولـي بـاغ او خواوشا غمژنو دړد زپلو خلقو تـه ئې تسلي ورکړې وې او عملي مظاهره ئې کـړې وې چې مـونږ تاسـو سره په یو مېدان کلک ولاړ یُو. د دې حالاتو ترمخه او د پښـتو ویونکـو پـه خیـال اسـفندیار ولـي خـان ((ډرپوک)) سهي او ځه خبر دے تېښته نیمه بهادري هم سهي، پیاوړي اولس مشر آصف زرداري او وزیر اعظم یوسف رضا ګیلاني چې د ټول هېواد واکمن دي، دوي بـه د بهـادرۍ او مثـالي مړانـې ځرګندونـه کړې وي. ځکه چې په ظاهره خو دوي په مرکز کښـې یـو بـل سره ملګري دي او یـو بـل تـه ئې د دوسـتۍ لاسونه هم ورکړي دي. اوس نو کۀ هغوي هم په توده زمکه قدم کېښودو ته تیار نۀ دي نو دې ته به څۀ وایو؟ اندېښ شمس القمر خو داسې وائي:

څۀ اعتبار دے د وختونو د اسمان په تندر
نن په جونګړو پرېوتل سبا بنګلو باندې هم

کـوم پښـتو ویـونکي چې د پېښـې تـل تـه نـۀ شـي ورکوزېدلے او ډمـامو تـه ئې لاسـکي اچـولي دي، پچموزې کوي او د بې نومه صوبې د پولیس جرنېل دا منت زاري سُوده کپ ګښي چې اسفندیار ولي خان ته ئې جولۍ غوړولې وه او د الله رویونه ئې ورکول چې خـان صـاحب! مـونږ صدر او وزیـر اعظم او دې خلقـو تـه مۀ ملامتـه کـوه، هـر څنګـه چې وي تاسـو اسلام اباد تـه لاړ شئ. ځکه چې دلتـه د قـانون نافذ کـونکي اداري بـې وسـه دي. نـو اې دغـه پچمـوزې کونکي دا غواړي چې د معلوم خبر ترمخه دې ملي رهبر ووژلے شي او بیا کۀ ورپسې پـه شـلګونو او سوونو نـور ننګیـالي پښـتانۀ ووژلـي شـي نـو خبـر دے؟

د پېغور په چړو قتل شوم څو واره
ادیره کښې مې قبرونه په قطار دي
(امین الله داؤدزے)